مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالخالق رشید

۲۰۲۳/۰۸/۱۵

الله گل دانه دانه ، دانه دانه
شوروي قارکده نمیره خانه
الله گل دانه دانه

*

*

**

***

****

********

*************



# د مرسلي پرسر ستوري

## (ناول)

پنځمه برخه

۱۹۸۰ ـ ۱۹۸۶ کلونه

لیکوال

ع .رشید



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

(۶)

## دا د کابـــــــــل بــــالاحصـــــــــار دی!

لمرنوی سرله ځمکې را پورته کړی و،نوی یې دهغې کلک زړه ځیرلی واونوی یې خپل سورمخ یې په مخسوری سره د ځمکې د سر پردغه خود خواه او جاهل مخلوق یعنی انسان چې پرته له خپلې خود خواهۍ اوخپلوځاني ګټوزموږ دځمکې پرمخ نورڅه نه ګوري او نه یې په فکرکې دی،په خپلو طلایی سپرغیو کې ولید.هغه سره اوځلانده لمرد شنه آسمان دکناروپرتنابوباندې خپلې سپرغۍ لکه داختر په بانړې چغ باندې چې مستې اوموسکانې پیغلې دزانګو لپاره ځانونه جوړوي،نوی زنګولو ته جوړې کړې وې، لمرلاهم هسک نه و راغلی چې دوی خړې چورلکې دقراګاه په ځنګ کې یوپه یوراکښته شوې،ځرخونه یې همداسې په ځرخیدو وو، لکه چې کرچکوف پرون ویلي وو،په هغو چورلکو کې دوه روسی چاروکې قوماندان او کرچکوف په خورا بیړې سره دکابل پرلوریو پربله پسې والوزول شول اودسترګوپه رپ کې له سترګوالونیاشوې...

په هغه شپه د نادرجان دوی په پوسته کې یوافغان سرتیری شهید شوی و،کله چې دغه دوه تنه روسان الوتکو ته ختل،دحکیم جان دوی دغونډ سیاسی مرستیال جګړن عارف چې په روسی ژبه هم یوڅه پوهیده،په خواره خوله هیله ترې کړې وه چې د دوی دغه شهید یوازې د کابل ترهوایی ډګره ورسوی، دهغه جنازه سرتیرو نوې له غونډه را ایستلې وه...خو روسی چاروکې ورته ویلی وو:

ـ موږ دومره وخت نه لرو،څو دهغه جنازه دلته رارسیږی،موږ کابل ته رسیږو ...نن له ګردیزه کتار را روان دی،په هغه کې یې کابل ته واستوئ چورلکې د سترګو په رپ کې له سترګو الونیا شوې او دشهید افغان جنازه یې بیرته وګرځنده روغتون خیمې ته په سټرواوږو باندې یووړه...

دغونډ قوماندان به چې کله کابل ته ولاړ،زیاته موده به یې هلته نه تیرولهٔ،سهار به چې لاړ مازدیګر به بیرته راته،کله که به خبره اوږده اومهمه هم شوه نو تریوه شپه خوګرد سره نه زیاتیده. څکه چې دلته جګړه په خپلې ټولې بدرنګۍ په پرله پسې توګه روانه وه، اوهرې ورځې یې ځانګړې بنې درلودې اوځانګړې بلاوې اوغمونه به یې د دوی پرمخ را بوټول ، لامل یې هم خورا ساده وهغه داچې دوی ددغه هیواد خلکو،غرونواولاښونو نه غوښتل اونه ورته آشناول ...دوی هم په دغه راز ډیربنه پوهیدلي وو،خود پوځیانو څه ګناه،پوځې که هرڅوک وې د قدروړدی،هغه ته یوموخی په مخ کې اینښودل کیږي اوامر ورته کیږي چې هغه باید ترسره کړي ... دوی چې اوس ددغه هیوادهرې خوا ته تلل،هلته پردغه ټکي پوهیدل چې دوی ته به کله هم برې دهورا په غیږه کې هرکلی ونه وایي...

کرچکوف دوی په هغه ورځ روغ رمټ کابل ته ورسیدل،دوی نن کومه ځانګړې لیدنه او کتنه نه درلوده،کوم روسان چې له دوی سره یوځای شوي وو،هغوی یې په خوندي بازارونه باندې وګرځول،هغوی هلته ډیرهغه څه چې په شوروي کې نه موندل کیدل لکه جاپاني ګړې ، امریکایی کاوبای جمپرونه،جرمنی مالونه او نور واخیستل ... او لا پوخ ما سپښین شوی نه و،چې دوی دکابل پربالاحصار باندې ورننوتل،داځکه چې د دوی لوی څواک اوس دلته ځای پرځای شوی و، دغونډ دقوماندان نژدی ملګري هم دلته اوسیدل،هغه مجاهدین چې له دوی سره یوځوله شوي وو،هغوی هم دلته راتلل او دلته یې ددوی پرغمل پردوی سپارل...

هغوی هم دلته ول، کرچکوف دوی په هغه ورځ چې یوه ګړۍ خبرې سره وکړې،دتفریح په پلمه د بالاحصاردچونۍ مخې ته راووتل، یوې او بلې خوا ته ګرزیدل،د بالاحصارد روسي څواک د انظباطانودټولي سیاسي مرستیال ایوان هم له دوی سره و، هغه نژدې لس میاشتې دلته تیرې کړې وې،هغه د کابل دبالا حصار په اړه اوس ډیرڅه لوستي وواوپه ډیرو شیانو باندې پوهیده، همداوه چې په دغه ورځ یې هم ددغې تاریخي اوپرتمینې مانۍ د پیژندګلوۍ په اړه وویل:

ـ دا دکابل بالاحصاردی،دلته یووخت انګریزان هم اوسیدل،دمکناټن په نامه یولوی انګریز مامورچې افغانانو وواژه دلته اوسیده،کیوناري ته یې هم دلته اور ورواچاوه ... افغان واکمن شاه شجاع چې د انګریزانو له پوځونو سره راغلی و، اوځان یې دهغوي په مرسته د کابل واکمن باله، دهغه جسد هم په پای کې دهمدغه بالاحصار په ختیرو ویالو کې ځوشپې پروت واوخلک یې په ښخولو باندې شرمیدل ... هو،موږ هم کټ مټ کارکړی،خو هغه وخت اودا خورا زیات توپیرسره لري،موږ اوس یونړیوال اویونه ماتیدونکی څواک یو ... موږ هم کارمل پرخپلو اوږو باندې ناست راووست، خوزموږ په ګمارلوبه کله هم د شاه شجاع کیسه راغبرګه نه شي ... زموږ ارادې لوړې اوموږ نه ماتیدونکې یو...

کرچکوف ورته موسکی شو، یوازې یې دومره ترخوله ورته راووتل چې:

ـ افغانان بد خلک دي،موږ ته چې مخامخ په جګړه کې ورسره لاس اوګریوان یواوس ډیربنه په ډاګه شوي دي...راځۍ له دغې خبرې تیرشو په نورو خبرو باندې وغږیږو ...هودا ډیربد او بل ډول خلک دي...

کرچکوف دوی په هغه ورځ خپلې خبرې پردې پای ته ورسولې چې دوی به سبا افغاني قوماندانان د پلچرخي له زندانه راباسي اودوی به یې له ځان سره د تبادلې په خاطرخپلې قرارګاه ته بیایی...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دوی وروستی شپه هم د کابل په بالاحصارکې شوه، ښکلې شپه وه، ښکلي کابل و، او ښکلي بالاحصار،هلته روسي سرتیرو بیلګه ییز ژوند درلود،ځکه چې دلته د دوی یوبیلګه ییزیا نمونه غونډ اوسیده ...په هغه شپه هلته ددوی لپاره هرڅه وورنګارنګ ډوډۍ ، شراب، سازونه،نڅاوې او ...داځکه چې دکرچکوف دوی ډله خو دجګړې له ډګره راغلې وه ...د دوی لپاره هم دکابل ننۍ شپه دجنت شپه وه،دچوڼې دننه نازکواومستوپیغلوله مستواونازکو نڅاووسره نا زکې اومستې سندرې هم نڅیدې ...خو له چوڼۍ او بالاحصاره دباندې پرټول ښارباندې دآرامې اوتورې تیارې اودرنې چوپتیا خپل وزورنه داسې درانه غوړولي ووچې ان له کوڅه ډبو سپیو یې غپاوې هم له یاده ایستلې وې...د بالاحصارهربرج د ډار اووحشت د دیوپه شان ولاړو،اواوږده دیوال یې هم ځان اوس داسې راکواږه شوي نیولی و،چې تا به ویل مړ ښاماردی اوسرېې کوم ظالم واکمن په زورسره پرې کړې او ځان نه شي خوځولای.له ټول ښاره غږ نه اوریدل کیده،اونه چا فکرکاوه چې دلته به هم ګواکي ژوندي څوک اوسیږي...داځکه چې دلته ددغه ښارروح ددغه ښارد اوسیدونکود ژوندیو احساساتوپه لاس کې نه وه،ځکه په هغه شپه کرچکوف ته هم په ډاګه شوې وه چې:کابل نه خوځیده،کابل نه خندیده او کابل نه ښکاریده ... یوازې تورتم و چې درناییۍ یوڅوڅراغونه یې په تورو تورو څپوکې دپردیو دکرغیړنواروااوو له ډاراووحشت سره یوځای بلول اوبلول...

****

او هغه توره او درنه شپه هم سبا شوه،لمر لوړرا غلی و،کرچکوف لاځان نه وسمبال کړی چې غږ پرې وشو:

ـ هله زرکړه چې روان یو،موټر تیار دی...

ـ دادی تیاریم،درووتم...

پرځان یې زر زرلاس وواهه،دریشي یې ځان ته کړه،له استوګنځي یې دباندې پرروسي ملګروبرسیره دری تنه نورمهم کسان هم ولاړوو،تلویزیونی کمرې والا هم په ماشه سپاره ولاړوو،همداوه چې څو نوي نوزي موټرونه همداسې یو پربل پسې ددوی لپاره تیارشوي ول.ټول ددې لپاره تیاروو چې باید یوځای په درنې امنیتي تیاریو کې د زندان پرلورحرکت وکړي.ترزندان پورې ډیره لاره وه ،په درنګ شیبه کې ټولو یوځای د زندان پرلورحرکت وکړ،داچې دوی نن هلته د څه په خاطر حرکت کاوه، دوی پردغه ټکي باندې

ښه پوهیدل، کله چې هلته ورسیدل،دوی ټول یو پربل پسې پرته له دې چې څوک د څه پوښتنه ترې وکړي، پرزندان ور ننوتل...

په هغه ورځ د زندان پرشاوخوا کې داسې کراره کراري وه چې غوړله غوږ نه خبریده، د زندان په شاوخواکې له سرتیرو اوپوځیانوپرته نورڅوک نه لیدل کیدل،هغوی مخامخ د زندان د آمردفترته ورغلل،چیرې چې هلته د سهارنۍ بندوبست هم ورته شوی و،د زندان آمر په دغو شیبوکې هرچا ان چې خپلې کورنۍ ته هم لکه قصاب داسې ښکاریده

...

سهارنۍ وخوړل شوه،خو ټولو راغلو ښاغلو تراوسه هم د استخباراتو (خاد) دکوم مشر راتګ ته سترګې پرلار وو... دکرچکوف زړه په تنګ شو،ویې غوښتل چې له کوټې دباندې ووزي،د زندان آمر کوم سرتیري ته اشاره وکړه چې باید بدرګه یې کړي،کرچکوف ځیرک شوروی و،له کوټې ووت،بدرګه وال په څوشیبوکې دزندان بیلابیلی برخې وروښودې...

ـهغه لومړی بلاک دی، دابل دویم،او دابل یې دریم په ګردو کې سیاسي بندیان دي،هو سیاسي بندیان،اخوانیان،امینیان، بسمچي،ماوستان اونور... دا زموږ اوتاسو ګډاونه پخولا کیدونکې دښمنان...

دواړه کرار کرارسره غږیدل اوروان وو،دلومړي بلاک پرخواورغلل،هلته یوډنګرپیردار ولاړو،په دغه شیبه کې بدرګه ضابط په کوم بل کار بوخت شو،کرچکوف اوهغه پیره دارسره پاتی شول،کرچکوف هغه پیره دارته ځان د روسي په توګه ورونه پیژاند اوورته ویی ویل چې دوی دملګروملتو له خوا راغلي دي ...اوغواړي دزندان اوزندانیانو په اړه څه واوري،کرچکوف په ماته ګوډه انګریزي پوښتنه ترې وکړه:

ـ دلته څه حال دی؟ څوک دلته زیات وژل کیږي ؟

پیره دارچې یوې اوبلې خوا ته وکتل،بی له ځنډه یې ورته وویل:

ـ دلته ډیر بدحال دی...

ـ څنګه ؟

ـ دغه دوه بلاکونه په سلګونو سیاسي زندانیانوډک دي،خو هرشپه په خورا بې رحمۍ او وحشیانه توګه ایستل کیږي او وژل کیږي...

ـ څوک یې وژني ؟

ـ ته خو به روسي نه وئ ؟

ـ نه ، نه،زه روسی نه یم ،زه دسویس یم...

ـ سویس،څومره ښکلی هیواد،څومره نیکمرغه خلک،زما خپلوان چې له جرمني څخه لیکونه رالیږي،هغوی هم ستاسي دښکلي هیواد ستاینه کوي،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ـ هو،زموږ هیواد ښکلی اوآرام هیواد دی،هلته جنګ نشته،هلته خلک نه مري او هلته دتیري کونکو لپاره ځای نشته ...
د ډنګر پیره دارچې زړه ته ورسیده چې دی روسی نه دی،ځکه یې ورزیاته کړه:
ـ ددغو بلاکونوزندانیان سیاسي کسان دي، په بیلابیلو نومونو یادیږي،هره شپه دوه او دری اوکله کله لس اوشل لاس تړلي، خولې تړلی اوسترګې تړلي ایستل کیږي خوبیرته نه را ستنیږي ...روسان هره شپه راځي د زندان له آمرسره یوځای چې هغه هم ترقصاب بدتردی په یوه خوله او یوه وارایستل کیږي اووژل کیږي.دلته د کافراومسلمان خبره اوپوښتنه نه مطرح ده اونه یې څوک په فکر کې دي،هغوی چې دخلکو په خبره سریې په تنه ارزي ،هغه که کافر وی اوکه مسلمان،هغه که د امین په باند پورې اړه ولري اوکه دګلبدین په سخته بې رحمۍ سره وژل کیږي...زیات شمیرتعلم یافته پوهان،استادان اوسیاستوال ټول وژل کیږي،په دغوټولوستونزوکې روسان نیغه برخه لري، پرکومه شپه چې دروسي سلاکار یا مشاورپه دفترکې څراغ لګیږي،موږ پوهیږوچې په هغه شپه ایستل او وژل وژل زیات وي ...خبرې ډیرې دي، روسان ډیرظلم کوي،روسانو زموږ پروطن باندې ډیربې رحمه یرغل کړی دی،د دوی واکمنانوزموږ هیواد په سره تبۍ اړولي چې په هره څنډه کې یې موږ اوزموږ خلک لولپه کیږو...
ـ ته یې څنګه دلته پریښي یی ؟
ـ دا ډیره اوږده کیسه ده ،زما یوخپلوان په خاد کې منصبداردی ،دهغه په باوردلته دنده ترسره کوم، پځوا بل ځای وم،ددغې دندې یوه ښیګړه داده چې له جبهې بې غمه یم...
کرچکوف ورته وخندل،سګریت یې ورته ونیو،ترې وایې خیست خوویې نه لګاوه،زریې په خپل جیب کې کیښود،وروستۍ پوښتنه یې ترې داوه:
ـ کومه جالبه کیسه چې تا ډیرځوروي راته ویلای شي ؟
ـ که رښتیا درته ووایم پرماخوهره شیبه دلته دقیامت شیبه ده،زه دلته هره ورځ پرهغوی باندې پیره کوم چې هغوی په مرګی نه ارزي،هغوی که په هرنامه دلته راغلي اوراوړل شوي داخپل وطن ورباندې ګران دی،خوهره ورځ دروسانواودهغوی دلاسپوڅوله خوا دمرګی میلمانه کیږي،له دوی څخه ژوند اخلي اودلته زموږ ژوندهره شیبه له غم،مرګ او درد سره ملتیا کوي.زه دلته له مجبورۍ ورځې پیره کوم،خو دغه څه چې دلته ګورم اودغه څه چې دلته یې روسان ترسره کوي،یوه ورځ به ماهم ناچارکړي چې باید دغچ اخیستني په لورځان تیاراواوچت کړم ... دلته که له ما پرته نورڅوک هم وپوښتې نوهمدا به درته ووایي چې روسان ظلم کوي، روسان زموږ بې ګناه اوپه خبره پوه وطنوال وژني، له هرچا به واورئ چې:
هزرا زخمونه مې په زړه دي مړبه شمه...
نژدې لس بجې وې چې پنځه تنه ببرسري چې تراوسه لا د مرګی تیغ ته نه وو برابرشوي ، هغې کوټې ته راوستل شول،هلته چې ټولو ددوی دراایستلو لاره څارله اوس هلته دزندان دخاد مشرهم رارسیدلی و،هغه هم هلته ناست و،د لومړي بیرسري چې کله پرهغه باندې سترګې ولګیدې،ترهرچا دمخه یې ده ته په ځیرځیرسره وکتل اوبیاروسانوته موسکی شو، دخادمشردده مانا لرونکوکتوته ځیرو،ځکه یې په ماتوجملوکې ورته وویل:
ـ څنګه موسکی یې لکه چې مرګ ته دې خوشالي کوې؟
ـ نه نه، په هغه باره کې فکرهم نه کوم، یوازې دې دمورمیړونوته موسکی یم،ورته وګوره ، ښه ورته ځیرشه،چې څه نه درباندې کوي،ورته وګوره،ما ته هم وګوره اودوی ته هم...
خو ژباړونکي دغه ټولې خبره ټکي پرټکی لوی مشاورته نیغې ژباړلې اوهغه ببرسري چې پرځان هم نه ووخبراوس په ډیرغروراوپرتم سره هلته داسې ولاړوچې لیدونکي ته یې په رښتیا هم کتواوځیروخوند ورکاوه،له هرچا سره یې په یوکتودامینه را بوټوله چې کاشکی له دوی سره د شپږم کس په توګه هلته په څنګ کې ولاړوای...
اوکمره لکه دناحقې شاهد مخامخ ورته ولاړه وه نژدې غرمه وه چې هغوی ټول یې پربالاحصار باندې تړلې سترګې،تړلي لاسونه او تړلې خولې وروخیژول،دزندان دخاد مشرهم ورسره و،ترهغو چې دوی پنځه واړه یې روسانو ته سپارل،دهغه لومړي ببرسري خبرویې لاهم په غوږو کې انګازه کول...
ـ نه نه، په هغه باره کې فکرهم نه کوم، یوازې دې دمورمیړونوته موسکی یم،ورته وګوره ، ښه ورته ځیرشه،چې څه نه درباندې کوي،ورته وګوره، ما ته هم وګوره اودوی ته هم...
لوړمازدیګرو چې دوی له بالاحصاره په دوو چورلکوکې دلنینګراد دسترچاړواکي د زوی دخلاصون پرلامل دلوګرپرلوروالوتل...
پاتې لري...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ